**بسم الله الرحمن الرحیم**

## مسلمانان به د الله سبحانه وتعالی په مرسته د اسلام د بدلون (د سیاسي اسلام له منځه وړل) لپاره د غرب روانه نقشه؛ د دویم راشده خلافت په اعلان سره په اوبو لاهو کړي

**(ژباړه)**

د خلافت دولت له منځه تلو وروسته غرب تل هڅه کوي، ترڅو اسلام د ژوند له ډګره وباسي او په کاهني (یهودیت او مسیحیت) دینونو یې واړوي. په همدې خاطر تمدن خپل ارزښتونه او مفاهیم پر مسلمانانو تحمیلوي، خو له دې ټولو هڅو سره سره بیا هم ناکام دي. په داسې حال کې چې مسلمانان دې ته تږي دي، ترڅو د نبوت پر تګلاره د خلافت د بیا تاسیس له لارې د ژوند ډګر ته اسلام راګرځوي.

غرب د تروریزم په نامه د مسلمانانو پر وړاندې نوې جګړه پیل کړې او په دغه جګړه کې یې اسلام خپله اصلي موخه ګرځولې، چې دا په اصل کې یوه دیني جګړه ده او جنګي رهبرانو یې صلیبي جګړه بللې. امریکا د دغې جګړې په وسیله عراق او افغانستان ونیول او له تروریزم سره د مبارزې په پلمه یې په ټولو سیمو کې پر مسلمانانو بریدونه وکړل. په ختیځ او لوېدیځ کې یې پر مسلمانانو فشار راوړ، خو پر دې ټولو سربېره بیا هم د جګړې پایله د غرب په ګټه نه وه. ځکه دا جګړه د مسلمانانو د راویښېدلو لامل شوه، ترڅو له غرب څخه کرکه وکړي. مسلمانان پر دې پوه شول چې اصلي دښمن یې ښکېلاکګر کافر دی؛ له همدې امله پر خپل دین راټول شول، منګولې یې پرې ټینګې کړې او نور هم په خپل ژوند کې د اسلام پلي کولو ته وهڅول شول.

غرب د دغې موضوع له کبله سخت په غوسه دی او د خپلې ناکامې طرحې ته یې پام شوی، خو کبر او دښمني یې د نوې طرحې لامل شوه، چې د دوو لاندې موضوعات پر بنسټ ولاړه ده:

۱. مادي جګړه؛ چې غواړي پر مخ یې بوځي او د تروریزم پر ضد جګړې نوم ورکړي. په دغې جګړه کې لاندې موارد داخل دي:

الف) پوځي جګړه او د ترونونو لاسلیکول: ژوند ته د اسلام له بیا راتګ (د نبوت پر منهج خلافت) څخه د مخنیوي لپاره او همدې کار ته چې د بل هر څه اړتیا وي.

ب) د خاینو حکامو په وسیله د هغو کسانو له منځه وړل، چې د اسلام د مقام، عزت او پر ځمکه د هغه د واکمنولو لپاره هڅه کوي.

۱-د فکري جګړې موخه د اسلام بدلون او د هغه سیاسي دریځ له منځه وړل دي. دوی غواړي اسلام هم په یوه کاهني دین بدل کړي، چې د سیاست او حکومت پر ځای یوازې عبادات او اخلاقو ته مخه کړي.

دغه راز غرب هڅه کوي چې سیکولریزم پراخه کړي، د دین او دنیا بېلوالي مفکوره، ډیموکراسي او ازادي د اسلام، خلافت، احکامو او هغو ارزښتونو بدیل وګرځوي، چې اسلام وړاندې کړي دي. غرب په خپله فکري جګړه کې د لاندې دریو شیانو د بدلون او یا یې له اسلامي مفاهیمو څخه د لرې کولو لپاره هڅه کوي:

الف) دغه مفهوم له منځه وړل چې حاکمیت یوازې د الله سبحانه وتعالی له لوري دی او اسلام باید د خلافت له لارې د ژوند پر ټولو برخو حاکم شي.

ب) د ملګرۍ او پیروۍ مفهوم؛ یعنې د دغه مفهوم له منځه وړل چې یوازې الله سبحانه وتعالی، رسول الله صلی الله علیه وسلم او مومنان مو باید ملګري وي او له کفر او کافرانو څخه لرې و اوسو.

ج) د الله سبحانه وتعالی په لار کې جهاد.

غرب د خپلې دغې طرحې د پلي کولو لپاره ځینې کارونه پیل کړل، ترڅو خپلو موخو ته ورسېږي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

د دین پیغام ته بیاکتنه: د اسلامي خاورو په هېوادونو کې «د دین نوي کول» اصطلاح ډېره، نامعلومه او ګونګه کارول کېږي، ترڅو د غرب فکري او سیاسي موخې خوندي کړي. دا اصطلاح پخوا طرحه شوې وه، خو په دې وروستیو کې په پراخه توګه پرې تمرکز شوی دی. په اصل کې د «نوي کول» اصطلاح له اسلام سره په ټکر کې نه ده، ځکه چې د شرعي نصوصو د ترمیمولو په مانا ده، ترڅو شرعي علوم بیا وځلیږي، عمل پرې وشي، غربي افکار او مفاهیم له اسلام څخه بېل شي. اسلام هغه روانو کړنو او ستونزو ته حللار لري، چې زموږ په زمانه کې رامنځته شوي دي. امت تل نوي کولو ته اړتیا لري. ابو هریره رضی الله عنه روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«إِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ لِهَذِهِ الْأُمَّةِ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِينَهَا»**

(د ابو داوود په روایت او له هغه پرته حاکم هم صحیح ګڼلی)

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی دغه امت ته په هرو سلو کلونو کې د دین د نوي کولو لپاره یو کس رالیږي.*

د مسلمانانو حکام او هغه کسان چې نوي کول غواړي، تر شا یې غرب، څېړنیز او طبي مرکزونه، کتابونه، د اسلامي هېوادونو ژونالېستان، دیني مدرسې لکه الازهر او نورو اسلامي ډلو او جریانونو یې هم غړ پورته کړی دی. غرب یې نوم «نوی پالل» (غرب پالل او نړیوال کېدل) ایښی دی. په حقیقت کې دا د هغه اسلامي مفاهیمو بدلول دي، چې د غرب په زیان دي او دوی ترې وېرېږي. دوی غواړي دا مفاهیم په هغه څه بدل کړي چې دوی یې غواړي. غرب ښکېلاکګر دی، د مسلمانانو ګټې یې لوټ کړې، مسلمانان او د هغوی خاورې یې په فساد ککړې کړې دي. په دغه مهم بحث کې شیخ محمد بن شاکر شریف اوسمهال د دین تحریف، چې د نوي کولو په نامه دی، په پنځو برخو وېشلی دی:

لومړی: د دغې طرحې پیل د ۱۳ مې پېړۍ له زېږیو سره پیلېږي. کله چې په ښکاره بڼه د غرب له فرهنګ سره د اسلام ټکر څرګند شو، نو غرب د دینونو نېږدېوالي ته کار وکړ او یوازې له هېواد څخه دفاع یې جهاد وګڼله. دغه راز د اسلام د خپرولو په خاطر یې جهاد ردکړ او پر ځینو غیبي امورو یې د تجربې پر بنسټ بحث وکړ، ترڅو په پایله کې یې له حقیقت څخه انکار وشي. دوی دغه پړاو ته د «اصلاح مدرسې» نوم ورکړ، چې مشهوره څېره یې شیخ محمد عبده و.

دویم: غرب پالنه د څوارلسمې پېړۍ له لومړیو سلیزو څخه پیل شوه. غرب پالنه هغه فکري بهیر دی، چې غرب نصرانیت د ژوند په هره برخه کې د نمونې په توګه بولي. په ټولنیزه برخه کې دغه بهیر قاسم امین پر مخ بیایي، چې د ښځو د ازادۍ مسوول و. همدا راز په سیاسي برخه کې یې لوبغاړی شیخ علي عبدالرازق او په فرهنګي کې دوکتور طه حسین و.

درېیم: د څوارلسمې پېړۍ په لړ کې وختپالنې سر راپورته کړ او موخه یې دا وه ترڅو شرعي نصوص په نوې بڼه قرائت شي او د فکري او علمي زمانې له لاسته راوړنو سره سم باید تفسیر شي. دا په دې موخه چې دیني نصوص خپل کیفیت له لاسه ورکړي. دوی د خپلو تحریفي خبرو د توجیه او ګټې اخیستنې لپاره دا ادعا وکړه چې ارزښت په مانا او مفهوم کې دی، نه په شکل او قالب کې. دوی په اصل کې د ښځې د بدن پټولو، عفت او د اسلام سیاسي نظام د بېرته راګرځېدو پر ضد راپورته شوي وو.

څلورم: نړیوال کېدل؛ کله چې د شلمې پېړۍ د اتمې لسیزې په وروستیو کې د شرق نظام دبدبه له منځه ولاړه، امریکا په یوازې ځان د نړۍ رهبري په لاس کې واخیسته او د نړیوال کېدو اصطلاح یې دود کړه، ترڅو ټول ملتونه په خپل فکري، فرهنګي او اخلاقي نظام کې ذوب کړي. د نړیوال کېدو په پلمه د دین تحریف ته ډېر کار وشو، ترڅو د هېڅ ملت لپاره ذاتي هویت، فکري خپلواکي، تمدن او فرهنګ پاتې نه شي. د نړیوال کېدو تر سیوري لاندې د دین د تحریف لپاره تر ټولو خطرناکه وسیله د تدریس د لارې بدلول او د سیکولریزم په لوري بېول دي. دغه راز د تاریخ تحریف او بالاخره د ځینو تعلیمي مرکزونو د مقرراتو له منځه وړل دي او دغه بدلون د ځینو امریکایانو په ګډون تر سره کېږي. سربېره پر دې پر تعلیمي مرکزونو او مدرسو فشار راوړي، پورونه او تحصیلي بورسونه ورکوي، همدارنګه د تشویق او ګواښ له وسیلو هم ګټه اخلي. د نړیوال کېدو د مفهوم پر بنسټ، له تعلیمي مرکزونو څخه دا تمه ده، چې د نړیوالې سولې لپاره کار وکړي او اسلام له نورو تحریف شوو دینونو سره په یوه کتار کې ودروي.

دغه راز له رسنیو او د جمعې له خطبو هم ګټه اخلي، ځکه خطبو له رسنیو ښه کار ورکړ. د خطبو بڼه دوی ورته ټاکي او دغه سیاست د خلکو دیني سرچینې وچوي. دین له ژوند څخه بېلوي او یوازې پر اخلاقو، عبادت، ښه چلند او دنیوي زده کړو ټینګار کوي. خاطبان د کفر، یهودیت، نصرانیت او د هغو تحریفاتو له ویلو منعه کوي، چې په اسماني کتابونو کې یې راوړي دي. دغه راز د خاطبانو لپاره د دین د نوي کولو (تحریف) لپاره زیاتې تعلیمي دورې پرانیزي، چې یوه برخه یې په امریکا کې جوړېږي. په دې سره غرب په صنعتي تولیداتو او رذالتونو کې ډوبوي، چې له دې لارې له اخلاقو څخه خلاص شي. له بل اړخه د معیشت ناوړه حالت او ناوخته واده کول له دغې طرحې سره پوره مرسته کوي.

پنځم: په زور د تجدید (تحریف) تحمیلول؛ په دې وروستي پړاو کې امریکا او صلیبي ملکرو ته یې خپلو خاینو مسلمانو همکارانو سخاوتمندانه مرستې تیارې کړې او پر هغو ظلمونو سترګې پټوي چې د دوی همکار دولتونه یې پر خپلو خلکو کوي. صلیبیانو د بدلون د تحمیل لپاره زور ته مخه کړه، کله ګواښ کوي او کله هم عملاً زور کاروي. د دوی موخه دا ده چې د هغه نوي نسل د پرختګ مخه ونیسي، چې د دین په پوهه کې له خپلو پخوانیو صالحو خلکو پیروي کوي. دغه راز اصلي موخه دا ده چې اسلام په شرعي احکامو کې د پایدارۍ له ځانګړنې څخه راوباسي او له نوي کولو او سیکولاریزم څخه یې اغېزمن کړي. دا ټول د دې لپاره چې د نړۍ د رهبرۍ لپاره د اسلام د بېرته راګرځېدو مخه ونیسي او «تبشیري» بنسټونه او موسیسې د اسلامي خاورو په هېوادونو کې کار وکړلی شي.

د نوي کول (غرب پالنه او سیکولرېزم) موخه دا ده، چې اسلام بدل او له ژوند څخه یې لرې کړي. په دې سره به پر مسلمانانو او د هغوی پر شتمنیو برلاسي شي او سیکولرېزم به د اسلامي خاورو پر هېوادونو وتپي. له همدې لارې دوی تل په دې هڅه کې دي، چې د اسلام اوصول ګډوډ کړي. همداراز لیدلوری، عقیده، او د شریعت ارزښتونه برعکس کوي. غرب له کفر سره د یو ځای کېدو پر تشویق سربېره، اصلاح ته د دعوت په پلمه د اسلام د بدلون او د ځینو شرعي نصوصو د ځنډولو او یا هم لغوه کولو لپاره کار کوي. همداراز غرب د عملي نوي کولو په لټه کې دی او موخه یې د اسلامي افکارو او مفاهیمو له پامه غورځول دي. لکه څنګه چې تر پرونه غرب په ډېرې بې شرمۍ د اسلام د بدلون هڅه کوله؛ خو اوس په ښکاره توګه له اسلام سره دښمنۍ ته راوتلی او غواړي قطعي نصوص یې بدل کړي.

څکه خو په دې وروستیو کې د سنتو پرېښودلو او یوازې په قرانکریم د اکتفاء کولو دعوت زیات شوی دی. په همدې تړاو په مصر کې د نومبر په ۲۰مه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تولد لپاره جشن جوړ شوی و او د الازهر شیخ د هغو کسانو یادونه وکړه، چې نبوي سنت یې شاته کړي او یوازې پر قران بسنه کوي. ده ټینګار وکړ چې مسلمانان د قرانکریم تر څنګ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو پر ساتلو یوه خوله دي؛ ځکه له نبوي سنتو پرته به د دین له څلورو برخو څخه درې برخې له منځه ولاړې شي.

د همدې غونډې په خبرو کې چې مخاطب یې «سیسي» و، وویل: «په اسلامي نړۍ کې اوسنۍ ستونزه له نبوي سنتو زموږ د پیروۍ له کبله نه ده، بلکې له دیني اوصولو د ناسم قرائت له امله ده.» دغه راز هغه له سیسي څخه وپوښتل، چې چا اسلام ته ډېر زیان اړولی دی؟ ایا هغو کسانو چې د نبوي سنتو پرېښودلو او یوازې په قراني نصوصو بسنه کولو ته خلک رابولي؟ یا هم هغه زیان چې له اسلام څخه د ناسم او افراطي فهم له کبله رامنځته شوی، چې د نړۍ د مسلمانانو ابرو یې تویې کړې ده؟

د دغې وینا په لړ کې د مصر الازهر پوهنتون او تطبیقي فقهې استاد سعدالدین هلالي د نبوي سنتو د کوښه کولو په اړه وویل: «هغه احادیث چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت شوي یو له بل سره په ضد کې دي.» هغه زیاته کړه: «دغه احادیث له یو بل سره او له هغوی څخه قرائت هم له یو بل سره په ټکر کې دی. موږ باید هغه مفهوم ترې را وباسو، چې زموږ له حالت او وخت سره سمون لري او خپله راتلونکې پرې جوړه کړو. دغه راز له خپل وخت سره سم پر مخ ولاړ شو. دا د دې لپاره چې موږ له اروپا، چین او جاپان څخه وروسته پاتې نه شو، هغوی چې په اسانۍ سره یې خپل هېوادونه مدیریت کړل، پرته له دې چې پر دین سوداګري وکړي.»

له بله اړخه په دې وروستیو کې د امریکا نوې ستراتیژي د «اسلام اصلاح» په نامه یو بحث وړاندې کړی، چې موخه یې د اسلام تغییر او تحریف دی. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له پټو اسنادو څخه د "the intercept" سایټ په قول «عربي قدس» ورځپاڼه نقل کوي چې، دغه وزارت ټرامپ ته وویل چې د «اسلام اصلاح» سیاست غوره کړي. په دغه کرښو کې راغلي دي: «د ایران او داعش په اړه موخه دا ده چې دغه دواړه او اسلامي افراطیت سره ګډ کړو او باید داسې ډیپلوماتیکې وسیلې پیداکړو چې د اوسني ایران او داعش ملاتړو ربښې وچې کړو. دغه راز د دې اړتیا ده چې په پراخه توګه د اسلام د اصلاح پر پروګرام تمرکز وشي.»

دغه راپور وايي کله چې د ۲۰۱۷م کال په اوړي کې د ملي امنیت شورا د ټرامپ د دولت ستراتیژي ملي امنیت ته ټاکله، نو دغه راپور یې د بهرنیو چارو وزارت ستراتیژي جوړونکو ډلې ورته وسپاره. په دغه راپور کې د ایډیولوژۍ پر سیالۍ تمرکز شوی و. کله چې د هغه وخت د بهرنیو چارو وزیر ریکس ټیلرسون د اسلام پر وړاندې د ټرامپ له دښمنانه سیاست څخه ځان واېسته، نو ټرامپ د هغه پر ځای په اپریل میاشت کې اوسنی وزیر مایک پامپیو وټاکه. پامپیو له اسلام سره د کینې ښکاره تاریخچه لري او له اسلام سره د ده د سیاست په اړه ډېر خلک په اندېښنه کې وو. دغه راز د بهرینو چارو وزارت یوه مسوول شخص د دغه راپور سمون تایید کړی او دا یې هغه راپور کڼلی چې د ملي امنیت د ستراتېژۍ جوړولو لپاره کارول شوی دی.

دغه راپور دا هم په ډاګه کړه چې په ۱۹۴۷م کال په بهرنیو چارو وزارت کې سیاسي ستراتیژیکه ډله جوړه شوه او دا ډله په بهرنیو چارو وزارت کې څېړنې مرکز ګڼل کېده. د یادې ستراتیژیکې ډلې مشر د بوش د کابینې یو مشهور سیاستوال برایان هوک و. راپور دې ته هم اشاره کوي: «هوګ او د هغه ډلې نړیوالو چارو ته په کتو په یوه اوږدمهاله ستراتیژي کار کاوه.» دغو دوو لیکوالانو هغه مهال دا یادښتونه کشف کړل چې هوګ د محرمو اسنادو د له منځه وړلو نیت درلود. د یادو لیکوالانو په باور دا په دې مانا ده، چې دا بنسټ پر دوو ایډیولوژیو بوخت دی او هغه مواد چې دوی یې خپروي، تر اوسه نه دي خپاره شوي. دغه راز دا موضوع د بهرنیو چارو وزارت پخوانیو مسوولینو، د دفاع وزارت (پنټاګون)، ملي امنیت شورا، وکیلانو او مشاورینو د ګواهۍ پر بنسټ ویل شوې ده. یادو شاهدانو ویلي، چې موږ هېڅکله د اسلام اصلاح تحریکوونکې او اختلافي اصطلاح نه ده لیدلې. هغه اصطلاح چې مارټین لوتر یې رایاداوه، څو د هغه اسلام د مدرنه کېدو هڅه وکړي او دا په تاریخ کې ربښې لري. دا په داسې حال کې ده چې دوی فکر کوي، اسلام په حقیقت کې پر شاتګ او توتریخوالی دی، چې له پخوانیو په میراث راپاتې دی. (سرچینه: قدس عربي)

د دغه راپور پر بنسټ په هغه یادښت کې د «اصلاح» د کلمې د ټینګښت لپاره مهم ټکي وړاندې شوي، لکه د امریکا د امپراتورۍ د پراختیا لپاره د ښځو ملاتړ. په دغه راپور کې راغلي: «دوې مهمې ډلې؛ ښځې او ځوانان زموږ موخه دي او ښايي یوازې دا هم نه وي. د ښځې پر ملاتړ تمرکز به نړۍ ته د امریکا پیغام ورسوي او پر اسلام به اغېزه وکړي. دا به امریکا ته د دې امکانات برابر کړي چې خپل اخلاقي عوامل او لیبرالي روایات وساتي.»

یاد راپور هغه نامعلوم پیغام ته اشاره کړې، چې د امریکا د سیاست پوله ټاکونکي هم ترې خبر نه دي. په دې اړه د بهرنیو چارو وزارت پخواني مشاور «ګود ګرین» وايي: «د اسلام اصلاح رواجولو به امریکا په خطرناک ځای بدله کړي.» دا موضوع د اوباما په دوره کې د نړیوالو او دیني چارو د ډلې مشاور او د ټرامپ د حکومت په لومړۍ نیمايي کې د بهرنیو چارو وزارت کارکوونکي

«قمرالهدي» هم تایید کړې ده. هغه داسې وايي: «د دې امکان شته چې له اصلاح غوښتلو ناسم درک وشي. دا چې دا موضوع د اسلامي ټولنې د تخریب اجنډا ده او دا بحث له اسلام څخه د امریکا د کینې له امله، د امریکا ضد کینه غښتلې کوي.»

له بله اړخه د هغه فرانسوي یادښت خپرول دي، چې په خپله خوښه یې د هغه قراني ایاتونو حذفول غوښتي، چې له یهودو او نصاراوو سره د جګړې په اړه راغلي دي.

د فرانسې «شارلي ابدو» ورځپاڼې پخوانی مسوول مدیر د دغې مفکورې خاوند دی. هغه دا موضوع د «نویو ښکاره کینو پر وړاندې» په عنوان د اسلامي سختدریځی په اړه په یوه مقاله کې په ښکاره دښمنیو سره د جګړې په پلمه د قرانکریم د ځینو ایاتونو د حذفولو مفکوره وړاندې کړې، چې یاده مقاله یې د «لوباریزیان» په ورځپاڼه کې خپره کړه. فال وایي چې په دې برخه کې د فرانسې د ۳۰۰ مشهورو شخصیتونو په تایید بریالی شوی دی، چې له هغې ډلې پخوانی ولسمشر نیکولاس سرکوزي، پخوانی لومړی وزیر ایمانویل فالس، مشهور سندر غاړی شارل ازنافور، یهودي فرانسوي ادیب او خبریال نیرنار هنري لیفي او مشهور لوبغاړی جیرار دیباردیو دي. همدا راز دغه یادښتونه د دې لامل شول، چې په اروپا کې د ملکي سازمانونو او جوماتونو د جوړلو برخه له ستونزو سره مخ کړي او د جوړېدونکو مالونو لګښتونه یې لوړ کړي.

دوی اسلام له مسیحیت سره پرتله کوي او فکر کوي چې پر اسلام به خپلې ناوړه موخې تطبیق کړي. څکه پخوا «واتیکان» د خپل مقدس کتاب ځینې برخې حذف کړې او ویل یې چې له اوسمهال سره سمون نه خوري. د دوی په باور دا امکان نه لري، چې یو باایمانه شخص دې په مقدسو دیني متونو باور ولري، څکه دا کار هغه جرمونو ته تحریکوي.

دغه راز د سیاسي اسلام د کړنو د له منځه وړلو هڅه یا هم د ځینو دولتي چاپلوسانو او دروغجنو په وینا د سیاسي اسلام له منځه وړل او په دې ډول د هغه ډلو چې سیاسي اسلام او خلافت ته کار کوي، په داسې ډلو بدلې شي چې سیاسي کار نه کوي او یوازې اخلاقي او عبادي کارونه کوي. لکه څنګه چې په همدې اړه په ۲۰۰۷م کال کې «رانډ» موسیسې «د منځلارو مسلمانو ډلو رامنځته کول» تر عنوان لاندې یو راپور خپور کړ، چې ۱۰ څپرکي او ۲۱۷ پاڼې یې درلودې. د بشري څېړنو مرکز مدیر «باسم خفاجي» بیا دغه راپور تشریح کاوه. په دغه راپور کې راغلي: «غرب باید له اسلامپالو سره د جګړې پر مهال د پانګوالۍ له دوو اړخونو (غرب او د شرقي سوسیالېزم له تېرې سړې جګړې) څخه ګټه واخلي.» دغه راز په دې راپور کې راغلي: «د اسلامي خوځښتونو د فعالیتونو د پای ته رسولو لپاره باید له فرهنګیانو، دیني عالمانو، صوفیانو او د اسلامي هېوادونو له سیکولرانو ګټه واخیستل شي.» همدارنګه امریکایي مسوولینو ته وړاندیز کیږي، چې د دغې طرحې د پلي کولو او د پټو او نومورکو مزدورانو د له منځه وړلو لپاره دا اړینه ده، چې دغه مهمه برخه دولتي بنسټونه پر مخ یوسي.

دغه راپور د مسلمانې عربي او عجمي نړۍ تر منځ او هم په مسلمانانو کې د جګړې زیاتېدل غواړي. همداراز د سیاسي اسلام د خوځښتونو پر وړاندې باید د لیبرالي سیکولر بهیرونو ملاتړ وشي. باید ووایو، چې د سړې جګړې پرمهال غرب چې په سر کې یې امریکا ده، د یو ملي بهیر په چوکاټ کې له اسلامي بهیر څخه ملاتړ وکړ. همدارنګه له هغې څخه مخکې د ۲۰مې پېړۍ د پنځمې لسیزې په وروستیو کې له کیڼ مارکسیستي بهیر سره د جګړې لپاره غرب ډېره هڅه وکړه، ترڅو عرب ملتپال د هغوی پر وړاندې وکاوري. دغه راپور د منځلارو اسلامي ډلو رامنځته کول په دریو پړاوونو کې ممکن بولي:

۱.له اوسنیو خوځښتونو ملاتړ؛

۲.د هغو خوځښتونو سم تعریف او ملاتړ ورڅخه کول، چې غواړي جوړ یې کړي.

۳.د هغو ارزښتونو قوي کول او شمېر زیاتول، چې د خوځښتونو له رشد سره مرسته وکړي.

په دغه راپور کې ۱۰ پوښتنې دي، چې د هرې اسلامي ډلې د منځلاریتوب کچه معلوموي. همداراز ګوري چې دغه ډله پر اسلامي ارزښتونو باور لري که پر ډیموکراتیکو. یا اسلامي احکام تر پښو لاندې کوي او له کفارو سره په دوستۍ او ژوند کولو باور لري، که نه. د راند موسیسې په اند لاندې کسانو ته سختدریځي او تندلاري ویل کیږي: هغه کسان چې د اسلامي شریعت پلي کول غواړي، د اسلامي دولت تاسیس ته کار کوي، سلفي فکر لېږدوي او ډیموکراسي، غربي لیبرالېزم او د بشري حقونو نظامونه –چې غرب یې غواړي.ناروا بولي. همدارنګه هغه کسان چې دغه مسایل خپل حق بولي او د بدلون لپاره یې له فزیکي وسایلو ګټه اخلي.

په دغو کارونو سره د سېکولرانو چیغې پورته شوې او د سیاسي اسلام په اړه یې دروغ زیات شوي دي. دغه راز په دې اړه یې لیکنو هم زور اخیستی او په بدل کې یې له هغو اسلامي خوځښتونو ملاتړ زیات شوی، چې خلک تصوف، اخلاقو او د عباداتو برخو ته رابولي. ځینې هېوادونه د دوی ملاتړ کوي، د بېلګې په توګه عربي متحده اماراتو د ابوظبۍ موسیسې «طابه» له لارې د ۲۰۱۶م د اپریل په ۲۵مه د چچین په پلازمېنه کې د «اهل سنت والجماعت څوک دي؟» تر عنوان لاندې یو سمینار جوړ کړی و، ترڅو د دولتي صوفیانو په ملاتړ یې د امریکا د اجنډا د پلي کولو لپاره وکاروي. همداراز په دغې برخه کې د اماراتو هېواد یوه شورا «د مسلمانانو د حاکمان شورا» په نامه جوړه کړه. دغې موضوع ته پخوا هم ځینو عربو لیکوالانو او عالمانو اشاره هم کړې ده، چې له هغې ډلې ډاکټر عبدالوهاب مسیري دی، هغه وایي: «له شک پرته چې غربي نړۍ له اسلام سره په دښمنۍ کې ده او حکومت د تصوفي خوځښتونو ملاتړ او مرسته کوي. اوسمهال په غرب کې تر ټولو زیات کتابونه د محی الدین بن عربي تالیفات او د جلال الدین رومي اشعار دي.» دا هغه تالیفات دی چې خلک تصوف ته رابولي او ادبي جایزې تر لاسه کوي، لکه د بوکر جایزه او ...

د اسلام پر واندې د غرب پخوانیو بریدونو ته په کتو سره دوی هڅه کوي، چې د اسلامي حاکمیت د بیا راګرځېدو او سیاسي خوځښتونو مخه ونیسي. موږ غرب ته چې په سر کې یې امریکا ده، وایو: «څه ناوړه خوب مو ولید، نښه مو هم بې ځایه ولګېده او ډېر ژر به ستاسو په لاس بل شوی اور ستاسو لمن وسوځوي. که د لمر او سپوږمۍ رڼا ختمولی شئ، نو ضرور یې له منځه یوسئ؟! الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿ يُرِيدُونَ أَن يُطْفِؤُواْ نُورَ اللّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللّهُ إِلاَّ أَن يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ﴾**

[توبه:۳۲ - ۳۳]

***ژباړه:*** *هغوی غواړي په خپلو ناروا خبرو او ګومانونو د الله سبحانه وتعالی نور (اسلام) له منځه یوسي او د دغه نور د خپرېدو مخه ونیسي. خو الله سبحانه وتعالی به د کافرانو له مخالفت سره سره خپل نور کمال ته رسوي. همدغه الله سبحانه وتعالی دی چې خپل رسول صلی الله علیه وسلم یې له خپل رښتیني دین او لارښوونې سره یو ځای رالېږلی دی، ترڅو د مشرکانو پر مخالفت سربېره دغه دین پر نورو ټولو دینونو برلاسی کړي.*

څه ډول به خپلو ناوړه موخو ته ورسېږئ، په داسې حال کې چې د ځمکې او اسمانونو روښنايي له الله سبحانه وتعالی سره ده او همداراز درته وايو: «که د خلافت له راتلو وېرېږئ او خپل مالونه مو د جاسوسی پر مراکزو يعنې ځینو تش په نامه علماوو او متفکرانو لګوئ او له بېلا بېلو لارو اسلام ته زیان اړوئ، نو هېڅ ګټه به درته ونه کړي او حتا له يوې غمجنې پايلې سره به مو مخ کړي.» الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّواْ عَن سَبِيلِ اللّهِ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ وَالَّذِينَ كَفَرُواْ إِلَى جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ لِيَمِيزَ اللّهُ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ الْخَبِيثَ بَعْضَهُ عَلَىَ بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُ جَمِيعاً فَيَجْعَلَهُ فِي جَهَنَّمَ أُوْلَـئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ﴾**

[انفال:۳۶- ۳۷]

***ژباړه:*** *کفار خپل مال پر دې لګوي، چې خلک د الله سبحانه وتعالی له لارې او پر هغه سبحانه وتعالی له ایمان راوړلو راوګرځوي. هغوی به خپله شمتني مصرف کړي، خو وروسته به یې د غم او پښېمانی لامل شي او ماتې به وخوري. له شک پرته چې ټول کافران به دوزخ ته ځي او هلته به راټولېږي. دا په دنیا کې ماتې او په اخرت کې عذاب د دې لپاره دی، چې الله سبحانه وتعالی پاک له ناپاکو څخه بېل کړي او ټول ناپاک سره یو ځای کړي او دوزخ ته یې ورواچوي او هغوی به په دونیا او اخرت کې زیان وويني.*

د مسلمانانو د کمزوري کولو لپاره چې تاسو کومې هڅې کوئ او د حاکمیت پر ورانديې یې چې کومې اندېښنې لرئ، د نبوت پر تګلاره د دويم خلافت په تاسيس سره پای ته ورسېږي. هغه کسان چې ظلم کوي پر دې به پوه شي، چې دوی به چېرې ځي او برخليک به یې څه ډول وي؛ الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿طسم تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْمُبِينِ نَتْلُوا عَلَيْكَ مِن نَّبَإِ مُوسَى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقّ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعاً يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَاءهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءهُمْ إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِي فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُوا يَحْذَرُونَ﴾**

[قصص: ۶.۱]

***ژباړه:*** *طسم. دا د یوه روښانه کتاب ایتونه دي. موږ د موسی ع او فرعون د پېښې یوه برخه دقیقه درته وايو؛ هغه کسان چې مومنان دي او په یو عالم ستونزو کې ځان خپلې موخې ته رسوي. فرعون په مصر کې په تکبر او د قدرت په اخیستو پیل وکړ،*

*د هغې سیمې په خلکو کې یې بې اتفاقي واچوله او هغوی یې په مختلفو ډلو ووېشل. هره ډله یې د خپلو خلکو په دفاع او له نورو سره په دښمنۍ کې واچوله. فرعون د مصر خلک په دوو ډلو (قبطیان او سبطیان) ووېشل. له دغو ډلو څخه یې سبطیان چې اسراییل وو، د قبطیانو پر وړاندې کمزوري کول. هلکان یې وژل او نجونې یې د خپل خدمت لپاره ژوندۍ پرېښودلې. هغه په رښتیا د تاریخ له زیان کارانو او جنایت کوونکو څخه و. موږ غوښتل له کمزورو سره مرسته وکړو او د قدرت او حکومت وارثین یې وګرځوو. همدارنګه موږ غوښتل چې هغوی په مصر کې پاتې شي، حکومت او قدرت په لاس ورکړو او د کمزورو په لاس فرعون، هامان او د هغوی لښکرو ته داسې څه ور ووینو، چې دوی ترې وېرېدل.*

یوازې الله سبحانه وتعالی د صفت او ستاینې وړ دی.

**لیکوال: ابو ابراهیم قلقیلیه**

**ژباړن: حبیب الله**